# دوه نُورونو والا صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

14-July-2022



هفته وار د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پہ 14 جولائي 2022ء د پاکستان پہ هفته واره اجتماع کښې کيدونکے بيان

# دوه نُورونو والا صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: اے خلقو! بے شکه د قيامت په ورځ به د هغه د ويرې او حساب کتاب نه زر نجات بياموندونکے هغه څوک وي، چا چې په ما باندې په دنيا کښې زيات درود لوستلے وي۔[1]

دولت جو چاہو دونوں جہاں کی | کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)
روزِ قیامت میزان و پُل پر | دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)
پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا | میں یہ کہوں گا نامِ مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]…جمع الجوامع، جلد:9، صفحه:129، حديث:27684۔
[2]…جمع الجوامع، جلد:9، صفحه:129، حديث:27684۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

حديثِ پاک کښې دي:اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ ريښتونے نيت اَفضَل تَرين عَمَل دے۔(1)

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز کار نه مخکښې د ښه ښه نِيَّتونو کولو عادت جوړ کړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د علمِ دِين زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ چې خومره کيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم ۔ږخپله به پرې د عمل کولو او نورو د رَسَولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عجيبه معذوره

حضرت ابو قِلابَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بيانوي: زه يو ځل په شام ملک کښې ووم، يوه ورځ ما يو آواز واوريدلو، چا چغې وهلې: هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے، هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے، زه ډير حيران شوم چې آخر دا څوک دے؟ څوک چې په دومره يقين سره وائي چې زما د پاره دوزخ دے۔ فرمائي: چې د کوم طرف نه آواز راتلو، زه پاڅيدم او هغه طرفته روان شوم، هلته ما يو حيرانيدونکې نظاره اوليدله، يو کَس دے، د چا دواړه لاسونه چې هم کټ دي، دواړه ښپې ئې هم کټ دي، په دواړو سترګو هم ړوند دے او په زمکه اُلټا پروت دے او بيا بيا هم دا چغې وهي: **هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے، هئ افسوس! زما د پاره دوزخ دے۔**

---

[1] ...قبالۂ بخشش، صفحه:133تا135 ملتقطاً۔

ما د هغه نه پوښتنه اوکړه: اے انسانه! تا داسې ولې او په څه وجه وائي؟ هغه پر اسراره (نا اشنا) ګس اووئيل: اے پوښتنه کوونکيه! زما حال مه پوښته--!! افسوس! زه په هغه بدقسمتو کښې يم څوک چې د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د شهيد کولو د پاره د هغوئي کور ته ننوتے وو، ما چې کله توره راواخسته او د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ خوا ته اورسيدم نو د هغوئي بي بي محترمې رَضِیَ اللہُ عَنْهَا په زوره زوره ماته سپورې ستغې خبرې شروع کړې، د هغې د سپورو ستغو خبرو اوريدو سره ما له غصه راغله، ما په غصه کښې بي بي صاحبې له مَعَاذَ الله پړق ورکړو، چې کله حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ دا منظر اوليدلو نو هغوئي ماته 4 ښيرې اوکړې: (1) هغوئي اوفرمائيل: الله پاک دې ستا دواړه لاسونه (2): دواړه ښپې کټ کړي (3) تا دې ړوند کړي او (4): تا دې دوزخ ته ګزار کړي-

د اَمِيْرُالْمُؤمِنِيْن د جلال نه ډک مخ ليدلو سره او د هغوئي د دې قهر د ښيرو اوريدو سره په ما غونے ځيګ ځيګ شو او زه د ويرې نه رپيدم او د هغه ځائے نه راوتختيدم- افسوس! د اَمِيْرُالْمُؤمِنِيْن حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په هغه 4 کښې په 3 ښيرو کښې خو ګير شوے يم، ته وينې، زما دواړه لاسونه هم کټ شوي دي، زما دواړه ښپې هم کټ شوې دي، او د سترګو نظر مې هم تلے دے، افسوس! په کروړونو ځل افسوس! اوس صرف څلورمه دعا پاتې ده (يعني زما دوزخ ته تلل پاتې دي)- [1]

دو جہاں میں دشمنِ عثماں ذلیل و خوار ہے | بعد مرنے کے عذابِ نار کا حقدار ہے [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ...الرياض النضرة، الجزء الثالث فی مناقب عثمان بن عفان، صفحه:37-

2 ...کراماتِ عثمان غنی، صفحه:3-

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ لنډه شان پيژندګلو

اے عاشقانِ رسول! د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ ډير د اوچتې مرتبې خاوند وو ۞ هغوئي په عشرهٔ مبشره (يعني په هغه صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان چاته چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دنيا کښې په خصوصيت سره د جنّت زيرے ورکړو، هغه لسو) کښې دے ۞ د هغوئي نوم مبارک عثمان ۞ کنيت ابو عمر او ابو عبد الله دے ۞ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ ته يو فضيلت دا هم حاصل دے چې هغوئي د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خورېې ترور (د والد صاحب د خور) اُمِّ حکيم رَضِیَ اللہُ عَنْهَا لمسے دے (يعني د خور آقا صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوره ترور د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ خوره نيا ده) ۞ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ په 18 ذُوالحِجَّةِ الْحرام 35ھ ډير په ظلم سره شهيد کړے شو۔[1]

| | |
|---|---|
| امام الاَسخِیا کر دو عطا حِصّہ سخاوت کا | قناعت ہو عنایت ' دیں نہ دولت کی فراوانی |
| مجھے اپنی سخاوت کے سمندر سے کوئی قطرہ | عطا کر دو نہیں درکار مجھ کو تاج سلطانی[2] |

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ ځينې خاصيتونه

هسې خو د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ ډير زيات فضيلتونه دي، البته نن به مونږ د يو څو خاصيتونو اوريدو سَعادت حاصلوو۔

## وړومبے خاصيت: حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ ذُو النُّورَين دے

د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ وړومبے او ډير مشهور خاصيت دا دے چې هغوئي ذُو

---

[1] …الرياض النضرة، جزء الثالث ، ذكر فى نسبه، صفحه:37ملتقطاً، كرامات عثمان غنى، صفحه:3ملتقطاً۔

[2] …وسائل بخشش، صفحه:584۔

النُّورَين (يعني د دوؤ نورونو والا) دے، د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان په صف کښې صرف هغوئي ته د ذُو النُّورَين لقب ورکړے شو۔

د مسلمانانو د څلورم خيلفه حضرت علي المرتضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خدمت کښې چا عرض اوکړو: د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په باره کښې څه ارشاد اوفرمائيئ؟ حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوفرمائيل: عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه هستي ده، څوک چې په فرښتو کښې هم د ذُو النَّورَين په نوم سره رابللے شي۔ [1]

## د ذوُالنَّورَين لقب ورومبئ وجه

**اے عاشقانِ رسول!** حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ذوُالنَّورَين ولې وئيلے شي؟ د دې يو څو وجې دي، (1): يوه خو ډيره مشهوره وجه ده چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په نکاح کښې د خوږ آقا، مکي مدني، مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 لونړه پرله پسې راغلې، څکه هغوئي ته ذوُالنَّورَين وئيلے شي۔ [2]

| | |
|---|---|
| نبی کے نُور دولے کر وہ ذُوالنُّورَین کہلائے | انہیں حاصِل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی [3] |

## په دريم نسلِ پاک کښې بچے بچے د نور دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې نه معلومه شوه چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بخپله هم نور دے او د الله پاک په فضل سره د هغوئي د نسلِ پاک بچے بچے هم نور دے، اوګورئ! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ذوُالنَّورَين دوؤ نورونو والا وئيلے شي، څکه چې د هغوئي په نکاح کښې د سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه شهزادګئ

---

[1] ...الرياض النضرة، الجزء الثالث، فی اسمه وکنيه، صفحه:6۔

[2] ...الرياض النضرة، الجزء الثالث، فی اسمه وکنيه، صفحه:6۔

[3] ...وسائل بخشش، صفحه:584۔

راغلې، يعني د نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه دوه شهزادګۍ نور دے او د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په نکاح کښې راغلې، څکه هغوئي 2 نورونو والا شو، معلومه شوه! رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نور منل خو غټه خبره ده، د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزادګۍ نور منل يواځې د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عقيده نه ده بلکه فرښتې هم حضرت عثمان غني رضی اللہ عنہ ته ذوُالنَّورَين وائي، لکه چې د فرښتو هم دا عقيده ده چې د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولاد هم نور دے، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ خومره ښکلې خبره کړې ده:

| | |
|---|---|
| تیری نسل پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا | تُو ہے عین نور تیرا سب گھرانا نور کا |
| نور کی سرکار سے پایا دوشالہ نور کا | ہو مبارک تم کو ذُوالنُّورَین جوڑا نور کا(1) |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ ته ذوُالنَّورَين ولې وئيلے شي، د دې يوه وجه خو هم دا ده چې د هغوئي په نکاح کښې د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه شهزادګۍ راغلې، د دې سره سره علمائے کرامو د دې بعضې نورې وجې هم بيان کړې دي:

## د ذوُالنَّورَين لقب دويمه وجه

(2): عالمان صاحبان فرمائي: د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ دا شان دے چې د قيامت په ورځ چې به کله حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ جنّت ته داخليږي نو د هغوئي په درناوي کښې به جنّت کښې 2 نورونه روښانه کولے شي- څکه هغوئي ته ذوُالنَّورَين وئيلے شي- (2)

---

1 ...حدائق بخشش، صفحہ: 246-

2 ...الرياض النضرة، الجزء الثالث، فی اسمه وکنيه، صفحه:6-

## د ذوُالنَّورَين لقب دريمه وجه

(3): امام ابو حُسَين قُزوِيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ دا عادت مبارک وو چې هغوئي به د وترو لمونځ کښې ټول قرآن مجيد لوستلو- قرآن هم نور او د شپې قيام (يعني د شپې لمونځ کول) هم نور دے، حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ به دا 2 نوره جمع کول ځکه هغوئي ته ذوُالنَّورَين وئيلے شي- [1]

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول! په دې ځائے کښې زمونږ د زدکړې د پاره هم مدني ګل دے، د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ به هره شپه د وترو لمونځ کښې د ټول قرآن مجيد تلاوت کولو، اوس مونږ له غور پکار دے چې ۞ مونږ د قرآنِ مجيد څومره تلاوت کوؤ؟ ۞ زمونږ د قرآنِ مجيد سره څومره مينه ده؟ ۞ حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په يادو قرآنِ مجيد لوستلو، مونږ خو ئې چې کم از کم اوګورو او اولولو ئې ۞ حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ به قرآنِ پاک په ولاړه لوستلو، مونږ خو ئې چې کم نه کم په ناسته اولولو ۞ حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ به هره ورځ د قرآنِ کريم تلاوت کولو، چې مونږ کم نه کمه يوه سيپاره خو هره ورځ اولولو- د الله پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: قرآنِ کريم لولئ! بے شکه کوم زړه چې د قرآنِ کريم يوه برخه وي، الله پاک هغه زړه له عذاب نه ورکوي- [2]

فِلموں سے ڈِراموں سے دے نفرت تُو اِلٰہی | بس شوق مجھے نَعت و تلاوت کا خُدا دے [3]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...الرياض النضرة، الجزء الثالث، فی اسمه وکنيه، صفحه:6-

[2] ...جامع صغير، صفحه:83، حديث:1340-

[3] ...وسائل بخشش، صفحه:114-

## دويم خاصيت: په نکاح کښې د حضور ﷺ دوه شهزادياني

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په خاصيتونو کښې دويم خاصيت دا دے چې د هغوئي په نکاح کښې پرله پسې (يعني د يوې بلې نه پس ) د خوږ آقا، سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 شهزادګئ راغلې-

د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نه واخله تر د خوږ نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې کم او زيات 1 لاکھ 24 زره انبيائے کرام عَلَيۡهِ السَّلَام تشريف راوړو، ډيرو زياتو انبيائے کرامو ته الله پاک لونړه هم ورکړې، هغوئي د خپلو شهزاګو نکاح هم اوکړه خو د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ نه علاوه د انسانانو په تاريخ کښې يو هم داسې ګس نشته د چا په نکاح کښې چې د نبي عَلَيۡهِ السَّلَام 2 لونړه راغلې وي-

## د شهزادګو نکاح د وحي په ذريعه اوشوه

زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه الله پاک ماته وحي اوفرمائيله چې د خپلو 2 شهزاديانو نکاح د عثمان سره اوکړه-(1)

نبی کے نُور دو لے کر وہ ذُوالنُّورَین کہلائے | انہیں حاصِل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دريم خاصيت: حيا کوونکے

د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په خاصيتونو کښې دريم خاصيت دا دے چې هغوئي په امت کښې د ټولو نه زيات حيا دار وو- حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره نه رِوايت دے

---

1...الشريعة للآجری، باب ذکر تزويج عثمان، جلد:4، صفحه:1938، حديث:1406۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:584۔

چې خوږ آقا مکّي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: حيا د ايمان نه ده او عثمان زما په امت کښې د ټولو نه زيات حيا کوونکے دے۔(1)

د مسلمانانو دريم خليفه حضرتِ سَیِّدُنا عُثمان بِن عَفّان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زه چې بنده کوټه کښې غُسل کووم نو هُم د **الله** پاک نه د حيا په وجه ځان راټول کړم۔(2)

په حديث شريف کښې دي: حيا چې څومره زياته وي ښه ده۔(3)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ ته هُم پکار دي چې د خپلې حيا معيار چيک کړو۔ افسوس نن صبا مسلمانانو کښې د حيا ماده ورځ په ورځ کميږي، او چرته چې حيا کول وي هلته حيا نه کوي يعنې د ګناهونو کولو نه حيا کول پکار دي، او د ټولو زيات حقدار **الله** تعالٰی دے چې د هغه جَلَّ شَانُهٗ نه حيا اوکړے شي، چې زما رب تعالٰی ما ويني او زه ګناه کووم، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم دا سوچ به مونږه د ډيرو ګناهونو نه رامنع کړي۔

او د نيکئ په کار کښې حيا کول نه دي پکار، مَثَلًا څوک چا ته اُووائي ګيره پريږه يا عمامه په سر کړه يا د نيکئ دعوت ورکړه نو بعضې خلق داسې وخت کښې هُم وائي ما ته حيا راځي، نو داسې نه ده پکار چې مونږه د نيکئ په کار کولو کښې هُم حيا محسوسه کړو بلکه په اخلاص سره د **الله** تعالٰی د رضا د پاره نيکي کول پکار دي۔

## د حيا ماحول سره تَعَلُّق

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** که حيادار ماحول نصيب شي نو د بنده په زړه کښې حيا راپيدا کيږي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول کښې د حيا او نورو نيکو کارونو ډير ډير درس ورکولے کيږي، لِهٰذا هر وخت د **دعوتِ اسلامي** ديني ماحول سره

---

1 ... جامع صغير، صفحه: 253، حديث: 3869۔
2 ... باحيانوجوان، صفحه: 9۔
3 ... مسلم، كتاب الايمان، باب بيان عدد شعب الايمان، صفحه: 39، حديث: 37۔

خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم د نورو نیکو سره به د حیا کولو نیکي هُم حاصله کړئ۔

د حیا ذهن جوړولو د پاره د شیخِ طریقت، امِیرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه بهترینه رساله حیادار ځلمے (با حیا نوجوان) مطالعه کړئ او نورو ته هُم د دې د لوستلو ترغیب ورکړئ اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم هر طرف ته به حیا عامه شي۔ **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي۔

یاالٰہی! دے ہمیں بھی دولتِ شرم وحیا | حضرتِ عثماں غنی باحیا کے واسطے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## څلورم خاصیت: د دعائے مصطفے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حریص کوونکے

یو ډیر ښکلے خاصیت دا دے چې نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډیرې زیاتې دعاګانې کولې۔ راځئ! دې باره کښې یو څو روایتونه اورو:

## د چا د پاره په داسې دعا کولو نه دے لیدلے شوے

د غزوهٔ تبوک موقع وه، د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان لښکر په سفر روان وو، په لاره کښې په یو ځائے کښې ډیرې ستونځې رامخې ته شوې، د خوراک څښاک څیزونه ختم شو، ډیره سخته ګرمي وه، ډیره لوږه او تنده وه، دې حالت کښې د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان په مخونو باندې د خفګان نخښې په نظر راتلې، خو منافقان دې حالت لیدلو سره خوشحالیدل۔

رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا حالت اولیدلو نو د غیبو خبر ئې ورکړو او اوئې فرمائیل: **په الله پاک دې قسم وي! د لمر پریوتو نه مخکښې به الله پاک تاسو له رزق راولیږي۔**

حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ هم لښکر کښې موجود وو، کله چې هغوئي د رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دا فرمان واوریدلو نو سمدستي ئې انتظام شروع کړو، هغوئي د غلې ډک 7 اوښان واخستل او د خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په خدمت کښې ئې حاضر کړل، کله چې صحابهٔ کرامو علیہم الرِّضوان دا اوښان اوليدل نو د هغوئي په مخونو خوشحالي راغله، بل خوا د منافقانو مخونه غمژن شو- د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په خدمت کښې چې کله هغه 7 اوښان وړاندې کړے شو نو اوئې فرمائيل: دا څه دي؟ دا راوړي دي؟ عرض اوکړے شو، يَا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ ستاسو په خدمت کښې ډالئ وړاندې کړې ده-

راوي وائي: چې ما دا خبره واوريدله نو ما پخپله اوليدل، هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د دعا د پاره لاسونه پورته کړل او دومره ئې پورته کړل چې د سر مبارک نه ئې پورته شول، بيا **هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د پاره داسې دعا اوکړله چې هغوئي په داسې دعا کولو مونږ چرې هم نه دي ليدلي-**[1]

حضرت ابو سعيد خدري رضی اللہ عنہ فرمائي: ما رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوليدلو! چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ټوله شپه د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د پاره دا دعا کوله: **اے الله پاکه! زه د عثمان نه رضا يم ته ترې هم رضا شه-**[2]

| | |
|---|---|
| اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا |
| گرمی پہ یہ بازار ہے عثمانِ غنی کا | اللہ خریدار ہے عثمانِ غنی کا[3] |

---

[1]...الرياض النضرة، الجزء الثالث، بدعاء من رسول الله، صفحه:25-

[2]...تاريخ دمشق، جلد:39، صفحه:54-

[3]...ذوقِ نعت، صفحه:80-

## رضائے مصطفے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم میلاویدل لوئي فضیلت دے

اے عاشقانِ رسول! د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ خوش قمستئ ته اوګورئ! د رشک خبره ده، خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه د هغوئي د پاره دعا اوکړله:

**اے الله پاکه! زه د عثمان نه رضا یم ته ترې هم رضا شه۔**

الله اکبر! د چا نه چې محبوبِ خدا، د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا شي، د هغه نور څه پکار دي---!!

| | |
|---|---|
| خدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خدا چاہتا ہے رضائے مُحمّد (صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) (1) |

**وضاحت:** په دې شعر کښې اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حدیثِ پاک طرف ته اشاره کړې ده چې **الله** پاک به په ورځ د قیامت اولین و آخرین ټول راجمع کړي او خپل محبوب صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته به فرمائي: دا ټول زما رضا غواړي، خو اے زما محبوبه! زه ستا رضا غواړم۔

یاد ساتئ! د محبوبِ خُدا، سرورِ انبیا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا میلاویدل څه عامه خبره نه ده، ډیر لوئي فضیلت دے۔ امام محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: آخرت کښې چې به د الله پاک له خوا جنّت والوو ته د ټولو نه لوئي انعام میلاویږي، هغه **د الله پاک رضا** ده۔

اوس کتل دا دي چې د الله پاک رضا میلاویدل څنګه ده؟ اعلیٰ حضرت امامِ اهلسنت شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي:

| | |
|---|---|
| بَہم عَہد باندھے ہیں وَصلِ اَبَد کا | رضائے خُدا اور رضائے محمد (صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) (2) |

[1] ...حدائق بخشش، صفحه:65۔

[2] ...حدائق بخشش، صفحه:65۔

يعني يو ده د الله پاک رضا، يو ده د محبوبِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا، دې دواړو (يعني د الله پاک رضا او د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا) په خپلو کښې تل تر تله دا پوخ لوظ کړے دے چې دواړه به يو ځائے وي، يعني د چا چې د الله پاک رضا پکار وي، هغه دې د الله پاک محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا کړي، د چا نه چې د الله پاک محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا شي، الله پاک به هم د هغه نه رضا شي۔

معلومه شوه چې د چا نه د الله پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا شي، هغه به د آخرت د ټولو نه لوئي انعام يعني د الله پاک د رضا حقدار شي او د الله پاک په فضل سره حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هغه اوچتې مرتبې والا صحابي دے چې رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه د هغوئي د پاره دعا اوکړه چې: اے الله پاکه! زه د عثمان نه رضا يم، ته هم د هغه نه رضا شه۔

اوس لږه اندازه اولګوئ! دا د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ څومره لوئي فضيلت دے۔

الله سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا
گرمی پہ یہ بازار ہے عثمانِ غنی کا | اللہ خریدار ہے عثمانِ غنی کا[1]

## د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا حاصلولو کوشش اوکړئ!

اے عاشقانِ رسول! مونږ له هم پکار دي! چې مونږ هم د الله پاک د محبوب، د نبيانو د سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا کولو کوشش اوکړو ۞ نيک کارونه اوکړو ۞ د ګناهونو نه ځان بچ کړو ۞ درود شريف اولولو ۞ ذِکرُ الله اوکړو ۞ د قرآنِ پاک زيات تلاوت اوکړو ۞ د مکي مدني نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غم ځپلي اُمَّت په غم کښې شريک شو ۞ د عاشقان رسول سره همدردي اوکړو ۞ د نورو پکار راشو، چې داسې اوکړو

[1] ...ذوقِ نعت، صفحہ:80۔

نو

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زمونږ نه رضا شي، که چرې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! الله پاک به هم رضا شي۔

کام وہ لے لیجئے! تم کو جو راضی کرے | ٹھیک ہو نامِ رضا تم پہ کروروں درود[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پينځم خاصيت: بيعتِ رضوان

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خاصيتونو کښې پينځم او ډير اهم خاصيت دا دے چې رسولِ اکرم نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بيعتِ رضوان په موقع خپل لاس ته د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اووئيل۔

د هجرت شپږم کال وو، د صلح حديبيه موقع وه، خوږ نبي، مکي مدني جانان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپل سَفير جوړ کړو او مکې مکرمې ته ئې اوليږلو۔ د هغ وخته پورې لا مکه مکرمه فتح شوې نه وه، په مکه مکرمه د کافرانو قبضه وه، مکې والوؤ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ځان سره حصار کړو - دلته د دروغو يو خبر خور شو چې کافرانو حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهيد کړے دے۔

په غيبو پوهيدونکي نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پته وه چې دا دروغ دي، البته هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سره په دې خبره بيعت اوکړو چې که چرې واقعي عثمان شهيد شوے وي نو مونږ به د هغوئي بدله خامخا اخلو۔

د دې بيعت ذِکر په قرآنِ کريم کښې داسې شوے دے:

[1]... حدائق بخشش، صفحه:271۔

إِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغه کوم چې ستا بیعت کوي هغوئي خو د الله سره بیعت کوي د هغوئي په لاسونو د الله پاک لاس دے نو چا چې لوظ مات کړو نو هغوئي خپل لوئي لوظ مات کړو او چا چې پوره کړو هغه لوظ کوم چې هغوئي د الله سره کړے وو نو ډیر زر به هغوئي ته الله پاک لوئي ثواب ورکړي۔ (پاره:26،سورۂ فتح:10)

## د الله پاک د حبیب لاس جوړ شو د هغوئي لاس

روایتونو کښې دي: د دې بیعت شکل داسې وو چې د الله پاک نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل ښئ لاس مبارک اوغوړولو، ټولو صحابۂ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان د هغوئي په لاس خپل لاسونه کیښودل، بیا هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل زړه طرفته لاس د ټولو د پاسه کیښودو او اوئې فرمائیل: دا د عثمان لاس دے۔[1]

دستِ شہ دوسرا جو کہ یدُ اللہ تھا | دَست بنا آپ کا آپ وہ ذیشان ہیں

**وضاحت**: د خوږ نبي مکّي مَدَني محمدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دویم لاس مبارک کوم چې یَدُ الله وو، د بیعتِ رضوان په موقع دغه لاس مبارک د حضرتِ عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ لاس جوړ شو، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ داسې شان لرلو۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] …بخاری، باب مناقب عثمان بن عفان، صفحه:937، حدیث:3698۔

اے عاشقانِ رسول! د بیعتِ رضوان په موقع چې کله حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ مکې مکرمې ته تلے وو، نو هغه وخت کښې ځینې ایمان تازه کوونکې معاملې اوشوې۔ راځئ! د هغې نه 2 روایتونه اورو:

## حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ او د سُنّتِ مُصطَفٰی سره محبت!

سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ سفیر جوړ کړلو او مکې مکرمې ته ئې اولیږلو، هغوئي مکې مکرمې ته اورسیدل، د هغوئي د تره ځوي ابان بن سعید څوک چې مسلمان نه وو، هغه په مکه مکرمه کښې اوسیدو، حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د ټولو نه مخکښې د خپل د تره ځوي ابان بن سعید سره میلاؤ شو۔

حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د سنتو عامِل وو، ځکه هغوئي د سُنتو پیروئ کښې خپل تهبند مبارک د ګِټو نه بره ساتلے وو خو کافرانو دا بد ګڼړل، کافرانو به د تکبر او فخر په طور تهبند د ګِټو نه ښکته ساتو۔ د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د تره ځوي ابان بن سعید چې کله د هغوئي تهبند مبارک د ګِټو نه بره اولیدو نو د خندا په انداز ئې اووئیل: څه خبره ده، زه تا په کمزوري حالت کښې وینم، ستا تهبند د ګِټو نه اوچت دے؟ مطلب ئې دا وو چې اے عثمانه! ته خو مالداره سړے وې، ستا یو نوم وو، دا دې څه حالت کړے دے؟ ته سفیر راغلے ئې، تا له پکار وو چې ځان دې سنبال کړے وو خو ستا حالت ډیر کمزورے ښکاري، ستا تهبند د ګِټو نه بره دے۔

په دې حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ ډیر ښکلے جواب ورکړو، د زړه په غوږونو ئې واورئ! هغوئي اوفرمائیل: زمونږ د نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني مصطفے صلی اللہ علیہ والہ وسلم تهبند شریف داسې (یعني د ګِټو نه بره) وي۔ (1)

---

[1]...الرياض النضرة، الجزء الثالث، صفحه:22خلاصةً۔

یعني مکې والا به ماته څه وائي، د هغوئي په نظرکښې به زه څه ښکارم، زه د دې پروا نه کووم، زما آئیډل زما محبوب دے، زه د هغوئي د اداګانو ادا کول فخر ګڼړم- (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشقانِ رسول! خومره ښکلې خبره ده! سُنَّتِ مصطفےٰ صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ د پاره معیار دے، اللّٰه پاک فرمائي:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

ترجمهٔ کنزُ الایمان: بے شکه ستاسو د پاره د رسول اللّٰه پیروي بهتره ده-
(پاره:21،سورۂ احزاب:21)

معلومه شوه چې د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک ژوند زمونږ د پاره بهترینه نمونه ده ۞ مونږ له د هغوئي پیروي کول دي، زمانه څنګ روانه ده؟ حالات څنګه دي؟ مونږ له دې ته نه دي کتل پکار مونږ له دې ته کتل پکار دي چې زمونږ د محبوب آقا، سرورِ انبیا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعلیم څه دے ۞ چې جامې اخلو نو دې ته کتل نه دي پکار چې فیشن کوم چلیږي، دا ګورئ! چې زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جامې مبارکې به څنګه وې ۞ چې ویښته جوړوو نو دا نه دي کتل پکار چې نن سبا ټرینډ څه چلیږي، دا ګورئ چې زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ویښته مبارک به څنګه وو، غرض په پاڅیدو کیناستو کښې، تګ کښې، اوده کیدو کښې، پاڅیدو کښې، تلو راتلو کښې، هره معامله کښې مونږ ته فیشن ته کتل نه دي پکار، د زمانې حالاتو ته نه دي کتل پکار بلکه مونږ له یوې خبرې ته کتل دي، هغه دا چې زمونږ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکه ادا څنګه ده- کاش---! چې مونږ ته هم د حضرت

---

[1] ...الریاض النضرة، الجزء الثالث، صفحه:22 خلاصةً-

عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پشان عشقِ رسول نصيب شي، چې مونږ ته هم داسې ښکلے سوچ ميلاؤ شي او مونږ هم په سُنَّتِ مصطفےٰ پوره عمل اوکړو۔

فنا اتنا تو ہو جاؤں میں تیری ذات عالی میں | جو مجھ کو دیکھ لے اس کو ترا دیدار ہو جائے[1]

## د آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ئې مخکښې طواف اونکړو

اے عاشقانِ رسول! په دې موقع يوه بله ايمان تازه کوونکې معامله رامخې ته شوه، داسې اوشو چې کله حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مکه مکرمه کښې وو، د هغوئې د تره ځوي اَبان بن سعيد هغوئې ته اووئيل: يَابْنِ عَمِّ طُفْ! اے د تره ځويه! طواف اوکړه---!! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوفرمائيل: اے اَبان بن سعيد! زمونږ يو رسول دے، يو محبوب دے، مونږ يو کار هم په خپله خوښه نه کوو، سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې وړومبے کوي، مونږ چې څه هم کوو، د هغوئې په پيروئ کښې ئې کوو۔ [2]

## د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه مخکښې تلل منع دي

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږ هم داسې عشقِ رسول، داسې کمال محبت نصيب کړي، کاش! چې مونږ هم د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پيروئ کوونکي جوړ شو۔ آه! نن سبا خلق د عقل نه کار اخلي، د قرآن او حديث تعليمات د عقل په تَله تَلي، په فيشن کولو کښې داسې پريوتي دي چې د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت خپلول خو لويه خبره ده، د سنتو معلومات هم نه خاصلوي۔ کاش! چې مونږ د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ريښتوني پيروکار جوړ شو۔ الله پاک په قرآنِ پاک کښې فرمائي:

---

[1] …فیضانِ صدیق اکبر، صفحہ: 239۔

[2] …الریاض النضرۃ، ذکر اختصاصہ، الجز الثالث، صفحہ: 22۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ

ترجمهٔ كنزُ الايمان: اے ايمان والؤ د الله او د هغه د رسول نه وړاندې مه ځئ او د الله نه ويرېږئ بے شكه الله اوري پوهېږي۔

(پاره:26،سورهٔ حجرات:1)

د حضرت عائشه صِدّيقه رضی اللہ عنہا نه روايت دے: بعضې خلقو به د روژې مباركې نه يوه ورځ مخكښې روژې نيولې، د هغوئي په باره كښې دا آيتِ نازل شو او حكم اوكړے شو: د خپل نبي صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم نه وړاندې مه ځئ! (1)

مشهور مفسرِ قرآن، حكيم الأُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي: آيت شريف كښې وركړے شوے حكم د ټولو د پاره عام دے، يعني په هره خبره كښې، په هر يو كار كښې د رسول الله صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم نه وړاندې تلل منع دي، كه چرې د رسول الله صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم سره په لاره ځئ نو د اجازت نه بغير مخكښې تلل منع دي، كه چرې د رسول الله صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم سره د ډوډئ خوړلو شرف حاصل شي نو وړومبے شروع كول ناجائزه دي، دغه شان خپل عقل او خپله رائے د حضور صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم په رائے باندې مُقَدَّم ساتل حرام دي۔(2)

## عثمان به هيڅ كله هم طواف اونكړي

سُبْحٰنَ الله! يو طرفته مكه مكرمه كښې د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ د خپل د تره ځوي سره دا مكالمه روانه وه، بل خوا د خوږ نبي مكي مدني نبي صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم په خدمت كښې حاضرو صحابهٔ كرامو علیہم الرّضوان خپلو كښې خبرې اترې كولې چې ابو عبد الله

---

1...خازن، پاره:26، سورهٔ حجرات، تحت الآية:1، جلد:4، صفحه:175۔

2...شانِ حبيب الرحمن، صفحه:224۔

(يعني حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ ) خومره خوش قسمته دے، هغوئي به د کعبې د طواف سعادت حاصلوي۔

صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان چې کله دا خبره اوکړه نو سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: داسې نه ده، عثمان که ټول کال هم په مکه مکرمه کښې وي، هغه به هيڅکله هم زما نه مخکښې طواف اونکړي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول! څومره ځانګړے محبت دے، حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په مکه مکرمه کښې دے، هغوئي ته وئيلے شي: چې طواف اوکړئ! هغوئي وائي: د خپل محبوب صلی اللہ علیہ والہ وسلم نه مخکښې به چرې هم طواف اونکړم۔

دلته د محبوبِ خُدا، سرورِ انبيا صلی اللہ علیہ والہ وسلم د خپل خوږ صحابي په محبت څومره باور دے---!! هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائي: عثمان که ټول کال هم هلته وي، بيا به هم زما نه بغير طواف نه کوي۔ سُبْحٰنَ الله!

الله پاک دې په حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ کروړونه رحمتونه نازل کړي، د هغوئي رضی اللہ عنہ په برکت دې الله پاک زمونږ هم کمالِ عشقِ رسول، د سُنَّتو سره محبت، د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د کمالِ اطاعت جذبه نصيب کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک لمونځ ګزاره جوړيدو، د سُنَّتو سره د محبت او د اطاعتِ مصطفٰے جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د

---

1 ...الرياض النضرة، جزء الثالث، ذکر شهادة النبى، صفحه:22۔

ديني ماحول لمن اونيسئ! د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې هم پوره حصه اخلئ! اِنْ شَآءَالله الْکَرِیْم! د دين او دنيا بے شماره خير به مو نصيب شي- د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مدني مذاکره هم ده-

اَلحمدُ لِلّٰه! شيخ طريقت، رهبرِ شريعت، اميرِ اهلِسنّت **حضرت علامه مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي** دامت بَرَکَاتُهمُ العاليه د هر خالي او اتوار په مينځنئ شپه په مدني چينل نيغ په نيغه مدني مذاکره کوي، په کومه کښې چې د ټولې دنيا نه عاشقانِ رسول د دين او دنيا د ستونځو هوارولو د پاره د هغوئي نه پوښتنې کوي او هغوئي د عِلم او حکمت نه ډک جوابونه ورکوي- تاسو هم هره هفته مدني مذاکره کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَالله الْکَرِیْم! ېچپله به د دې برکتونه اووينئ-

## هره ورځ د مدني مذاکرې اوريدو برکت

د حيدر آباد د يو اسلامي ورور بيان دے، زه د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِيَه مريد خو د وړوکوالي نه ووم خو شيطان زه په دنيا کښې راګير کړے ووم، زما قيمتي ژوند په غفلت کښې تيريدلو، د خوش قسمتئ نه يوه ورځ د دعوتِ اسلامي د يو مبلغ سره ملاقات اوشو، هغوئي اووئيل: چې کوم د اميرِ اهلِسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِيَه بيانونه مو اوريدلې دي، تاسو په هغې خوشحاليږئ- د اسلامي ورور دا جمله زما په زړه ډيره ښه اولګيده او زړه کښې مې د مرشد محبت رابيدار شو، ما د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه د 50 مدني مذاکرو وي سي ډي واخستله او هره ورځ به مې يوه مدني مذاکره اوريدله- د اميرِ اهلِسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِيَه د تاثيرناکو خبرو اترو په برکت مې د ګناهونو نه نفرت شو او د نيکو محبت مې په زړه کښې زياتيدل شروع شو، لا مې څه لږې شان مدني مذاکرې اوريدلې وې چې زما په حُليه، زما په کردار او زما د ژوند تيرولو انداز کښې بدلون راغلے، ماته په سنتو د عمل کولو جذبه ميلاؤ شوه او اَلحمدُ لِلّٰه! د نيکئ دعوت عام کولو، په سنتو د عمل کولو د پاره مې د

دعوتِ اسلامي ديني کارونو کښې زږه اولګيدو- اَلحمدُ لِلّٰه! د مدني مذاکرې په ذريعه زما داسې تربيت اوشو چې 26 کاله ژوند کښې مې چرې هم نه وو شوے- (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ايپلي کيشن پيژندګلو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلحمدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ **ماهنامه فيضان مدينه** موبائيل ايپلي کيشن متعارف کړے دے- دې ايپلي کيشن کښې دا بهترين آپشنز موجود دي: ۞ د مخکښې ټولو ماهنامو فيضانِ مدينه پي ډي ايف ۞ ټول مياشتن مضامين (آرټيکلز) د ټيکسټ (ليکلي) شکل کښې موجود دي ۞ کوم چې د کاپي کولو سره شيئر کيدے شي ۞ سرچ آپشن کوم کښې چې ټولو مياشتنو کښې د سرچ (کتلو) سره هر يو څيز کتے شئ ۞ د ټولو مضامينو د موضوعاتو په اعتبار سره ترتيب، د سمارټ فون استعمالوونکي صارفين دې دا د پلے سټور نه ډاؤنډ لوډ کړي او پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو اسلامي ورونړو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بيان د ختميدو په لور بوځم او د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتو او آدابو بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰه عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ "چا چې زما د سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت

[1] ...اجنبی کا تحفه، صفحه:28، خُلاصةً.

کښېږي زما سره وي." [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## شکر ویستل سُنَّت دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامین: (1):** د بنده په هره یو لمړئ او هر ګوټ د الله پاک شکر ادا کول الله پاک ډېر خوښوي۔ [(2)] **(2):** خپلې ژبې په ذِکر او زړه په شکر لوند ساتئ!۔ [(3)]

**اے عاشقانِ رسول!** شُکر ویستل سُنَّت دي ۞ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ډېر زیات شکر ویستلو ۞ هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله هم ناشکري نه ده کړې ۞ شُکر اعلیٰ عبادت دے ۞ د شکر ویستو سره نعمت زیاتیږي ۞ بنده ته چې نعمت میلاؤ شي، بنده دې شکر اوباسي، د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! بنده د عذاب نه بچ کیږي۔ [(4)]

**د شکر ادا کولو طریقه:** ۞ حضرت ابو بکر شبلي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د نعمت کتو په ځائے، په نعمت ورکوونکي نظر ساتل شکر دے۔[(5)] مثلاً تاسو ته تنخوا میلاؤ شوه، دا هم نعمت دے، امتحان کښې پاس شوئ، ځوي یا لور مو اوشوه، د لمونځ توفیق درته میلاؤ شو، د روژې نیولو سعادت میلاؤ شو، صدقه مو ورکړه وغیره وغیره بل یو نعمت

---

[1] ...مشکوٰۃ، کتابُ:الْاِیمان، بابُ:الْاِعْتِصام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔

[2] ...مُسْلِم، کتابُ الذِّکْر والدُّعا، صفحه:1122، حدیث:6932۔

[3] ...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب: محبۃُ الله، جلد:1، صفحه:419، حدیث:590، ملتقطاً۔

[4] ...صِراطُ الجنان، جلد:4، صفحه:406، خُلاصۃً۔

[5] ...اِحْیاءُ العلوم، کتابُ الصَّبْر والشکر، جلد:4، صفحه:103، خلاصۃً۔

ميلاؤ شو نو اوس دې نعمت ته مه ګورئ بلکه سوچ اوکړئ: چې الله پاک دا نعمت عطا کړو، د نعمت نسبت خپل طرفته نه، د الله پاک طرفته اوکړئ ۞ امامِ غزالي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: د نعمت سره د نیکئ اراده کول **د زړه شکر** دے- په ژبه د الله پاک حمد او ثنا کول **د ژبې شکر** دے- د الله پاک راکړے شوے نعمت په عِبَادت کښې لګول، دا په ګناه کښې د استعمالولو نه بچ کول **د باقي اندامونو** شکر دے-[1]

د مختلفو سُنَّتو او آدابو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه تابونه "بهارِشریعت" جلد3 حصّه16 او د شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه 91 صفحو رساله **550** سُنَّتیں اور آداب هديةً واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د ترِبیَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

الفتِ مصطفیٰ اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راکړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

[1] ...اِحْيَاءُ العلوم، كتابُ الصَّبْر والشكر، جلد:4، صفحه:103، خلاصةً-

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الۡاُمِّیِّ
الۡحَبِیۡبِ الۡعَالِی الۡقَدۡرِ الۡعَظِیۡمِ الۡجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحۡبِہٖ وَسَلِّمۡ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبۡر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمۡ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللہ عَلَیۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵